څوک چې د هر فرض لمانځه پسې آیت الکرسي ووایي، نو هیڅ شی به هغه جنت ته له ننوتلو منع نه کړي، تر څو چې مړ شي

له ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "څوک چې د هر فرض لمانځه پسې آیت الکرسي ووایي، نو هیڅ شی به هغه جنت ته له ننوتلو منع نه کړي، تر څو چې مړ شي".

[صحیح دی] [النسائي په الکبری کې روایت کړی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر راکوي چې څوک د فرض لمانځه پسې آیت الکرسي ولولي نو له مرګ پرته به یې بل هیڅ شی جنت ته له ننوتلو منع نه کړي؛ او دا آیت په سورة البقره کې د الله تعالی دا وینا ده: {اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ}. (الله (چې دی) نشته هیڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی، پر ده نه پرکالي راځي، او نه خوب، خاص همده لره دي هغه څه چې په آسمانونو کې دي، او هغه څه چې په ځمکه کې دي، څوك دی هغه کس چې د ده په وړاندې به سفارش کوي مګر د ده په اجازت سره؟ هغه پوهېږي پر هر هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او پر هر هغه څه چې د دوی وروسته دي، او دوی (مخلوق) د هغه له علم نه هیڅ شی هم نشي راګېرولی، مګر هغه څه چې هغه (الله) یې وغواړي، د هغه کرس د اسمانونو او د ځمکې څخه پراخه ده او د دې دواړو ساتنه هغه (الله) نه ستړی کوي، او هم هغه ډېر اوچت دی، ډېر لوی دی). [البقرة: 255].

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10950